مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واحد فقيري ۲۰۱۹/۰۱/۳۱

# ملي هنداري ته يوه سياسي او اجتماعي کتنه

## د عبرت سياسي درسونه (۳)

مومن خان او شيرنو: د ملي وحدت حکومت: ففتي - ففتي

د نکل لنډيز

مومن خان او شيرينو سکه د اکا اولادونه دي، او په کوچنوالي سره کوزده او مينېږي. د دواړو پلرونه د قوم مشران دي. کله چي د هغوی پلرونه مري، د مومن خان او د اکا د زامنو د قوم پر رياست باندي سره شخړه کېږي. نيم قوم د مومن خان طرف نيسي، او نيم د زبردست خان، چي د شيرينو مشر وو دئ، خوا نيسي. بالاخره روغه پر دې کېږي چي د نيم قوم مشري به مومن خان کوي، او د نيم قوم رهبري به زبردست خان کوي. مانا د ملي وحدت حکومت تشکيلېږي، او قدرت ففتي ففتي وېشل کېږي. خو دا سياسي وېش مشکلات نه فيصله کوي، او سمدستي ستونزي راولاړېږي.

په دې نکل کي، مومن خان مهربان او سوله پال شخص دي. جنګ نه غواړي، او کارونه د روغي جوړي په واسطه فيصله کوي. د خپل قام بشپړ او دايمي ملاتړ ور سره دئ. کله چي مومن خان غواړي له شيرنيو ور واده وکړي، زبرست خان اول انکار بيا جنه جنه کوي. وروسته داسي سخت شرايط او جګ ولور ايږدي چي د مومن خان وس نه پر رسېږي. نو لهذا، مومن خان هند ته د تګ تابيا نيسي، خو شيرنيو ئي مخالفت کوي. شيرنو ورته وايي مهاجرت سخت دئ. بل دا چي هندي نجوني « ګرده بازينګري» دي، تا به هم وغولي، او « بازينګر به دي کي، تربرونه به دربادني خاندي. ټول پښتانه به بد درته وايي.»

خو مومن خان د سفر موزې اغوندي، او بالاخره هند ته رسېږي. مومن خان د حضرت يوسف غوندي ښايسته دئ، او لکه «پېروژه» سترګي نه پر رونېږي. نو لهذا، په هند کي په مخ نقاب اغوندي، څو له خلکو څخه خپل ښايست پټ کړي. مومن خان د يو هندي باچا سره ملاقات کوي، او د باچا مشاور او ستر پهلوان سي. له همدې هندي باچا څخه يو بل زورور راجا هر کال جبجه اخلي. دا خبره پر پښتون مومن خان باندي بده لګېږي، او غواړي چي خپل دوست له دې کلني باج څخه وژغوري .

مومن خان د ها بل راجا سلطنت ته ورځي. پدې رياست کي يو ښامار دئ چي هره ورځ بايد يوه ښځه وخوري. کله چي مومن خان هلته رسېږي، په همدې ورځ د باچا د لور نوبت وي. د مومن خان د باچا پر لور باندي سخت زړه سوځي، او پښتني غيرت ئي په جوش راځي. نو لهذا د ښامار په جنګ ورځي. ښامار وژني، او د راجا لور پر مينېږي. راجا په انعام کي خپله لور او نيمه پاچاهي ورکوي. مومن خان نيمه پاچاهي نه مني، خو د باچا د لور سره واده کوي. مومن خان دغه راز له راجا څخه د جبجي د معافولو مکتوب هم راخلي، بيرته خپل پخواني ځای ته راځي .

د زماني په تېرېدو سره په وطن کي د زبردست خان ظلم ډېرېږي. د مومن خان پلويان مدام پر زبر دست خان باندي چاپي وهي، او زبر دست خان منزوي او يوازي کېږي. په عين زمان کي، زبر دست خان د مومن خان له مور سره هم بد چلن کوي، او د مومن خان «ماجتي» وررور ډبوي. هغه سيده مومن خان ته په هند کي ځان رسوي، او د کور او کاله حالات ورته بيانوي. مومن خان له يوه اوږده مهاجرت راوروسته بيرته وطن خپل ته راستنېږي .

په عين زمان کي، په وطن کي د زبر دست خان نفوذ کمزوره کېږي، نو لهذا هغه او وړونه يې مجبوره کېږي چي د ځان او شيرينو د ساتلو لپاره د شپي پيره وکړي. کله چي مومن خان بيرته خپل کلي ته راستنېږي، په همدې شپه په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

پټه د شیرینو کره د دیدن لپاره ور اوړي. کله چي شیرنیو د مومن خان په مچه راوینېږي، ناڅاپه چیغه کړي. د هغي شپږ. واړه وړونه سمدستي پر مومن خان باندي د چړو او تورو ګوزارونه کوي، او مومن خان وژني .

د عبرت سیاسي درسونه: ګډ حکومت بقا نه لري. او دوه پاچاهان په یوه اقلیم کي نه ځاییږي.

د مومن جان او شیرنو نکل د جامعي د لوړي طبقي او خانانو تر منځ د سیاسي کشمکش او رقابت یو جالب داستان دئ. په بل عبارت، د دوو مقتدرو تربرونو تر مینځ د قوم د ریاست پر سر باندي یوه سیاسي مبارزه ده. پدې کیسه کي مومن خان د روغي جوړي او مصالحي سړی دئ. د قوم محبوب مشر دئ، او یو مهربان او وسیله ناکه کس دئ. جنګ او تخریب نه غواړي، او حتی دېته هم حاضر دئ چي د عامه سولي او امن لپاره تر خپلي خانی تېر سي .

خو په عین حال کي د مومن خان سیاسي حریف او د اکا زوی، زبر دست خان، د جنګ او شخړي طرفداره دئ. بر علاوه زبر دست خان یو وعده خلافه او لجوج سړی هم دئ. لکه څنګه چي د زبر دست خان له نامه څخه ښکاري، هغه تل زبر دستي کوي، او فطرتا ظالم سړی دئ. د داستان په آخري پړاو کي، زبر دست خان پر خپل ظلم باندي اعتراف کوي. کله چي مومن خان وژني، شرم یي وجدان ور شکنجه کوي. پر خپلي ماضي پښېمانه کېږي، او له ډېره شرمه خود کشي کوي. زبر دست خان د خپل ژوند په وروستیو شېبو کي وصیت کوي،«زما جنازه د ده د جنازي د مخه وړئ، او ما د ده د مخه ښخ کئ، ځکه چي ما ډېر ظلم ور سره کړی دئ.»

د مومن خان او شیرنو د داستان یو ستر او مهم سیاسي درس دا دئ چي دوه پاچاهان په یوه وطن کي نه چلېږي. په بل عبارت، د ملي وحدت حکومت تل له چلنچونو سره مخامخ وي او چندان بقا نه لري. په ملت کي خپلمینځي اختلافات لا ډېروي، او په قوم کي نفاق او اصطکاک زیاتوي. کله چي د مومن خان او زبر دست خان پلرونه مري، د زبر دست خان او ورونو د خانی پر سر سره دعوه سي. د هغو تر منیځ خپلمینځي شقاق او بی اتفاقي زیاتېږي، او «پر مشرتابه نه سره جوړېږي.»

پدي سیاسي لګه درګه کي ولس نه غواړي چي د هغوي په خپلمینځي کشالو کي ځان ښکېل کړي، او بی طرفي اختیاروي. ولس ورته وایي چي موږ. ستاسو په سیاسي رقابت او کشکمش باندي غرض نه لرو، تاسي ګرده موږ ته یو شان یاست، «هر یو چي مشر کېږي، زموږ قبول یاست.» د ولس همدا بې طرفي وروسته د وطن لپاره خورا ګرانه تمامېږي، او د زبر دست خان تر چړي لاندي کېږي. څرنګه چي زبر دست خان یو مستبد شخص دئ، د قوم خلګ بالاخره مجبوره کېږي چي پر زبر دست خان باندي حملي وکړي.

د همدې سیاسي کشکمش په ترڅ کي، مومن خان هم د مشرتوب دعوه کوي، ځکه هغه خپل د اکا زامنو ته وایي چي زموږ د پلرونو په وخت کي ستاسو پلار مشر وو، او زما پلار کشر وو. نو لهذا، د قوم او وطن مشرتوب ستاسو د پلار وو، خو اوس زما نوبت دئ. مانا ژرنده که د پلار ده هم په وار ده .

خو سمدستي د مومن خان او زبر دست خان تر مینځ روابط خړپړ کېږي. د دې کورني جنجال یو اساسي علت دا دئ چي مومن خان غواړي چي خپله مېرمن ور واده کړي. مګر زبر دست خان وعده خلافي کوي، او د مومن خان مرکي ته وایي،«زه هیڅکله خپله خور نه ورکوم، او نه هم زما پلار ور کړې ده، چي پر هغه راغلي یاست، پر هغه ځئ.» د زبر دست خان دا انکار او پلمي پر مومن خان باندي ډېري ګراني تمامېږي، ځکه مومن خان یو رشتین او باغیرته «پښتون» دئ. مومن خان نه غواړي چي د خپلو ترېرونو سره جنګ وکړي، ځکه د خپلوانو په مینځ کي جنګ «مناسب» نه ګني، نو لهذا فیصله کوي چي وطن خوشي کړي، او په اصطلاح میدان پری ږدي .

افلاطون وایي: کله چي هوښیار خلګ په سیاست کي برخه نه اخلي، د هغوی سزا دا سي چي کم عقلان باندي حکومت کوي. د مومن خان دا فیصله چي د سیاسي مقابلي ګرم ډګر خپل حریف ته مفت خوشي کړي، د سیاسي او اجتماعي لحاظه موجه نه ښکاري. ځکه ظالمانو ته د سیاسي قدرت میدان خوشي کول یو ملت ته تل بد نتایج لري. د مومن خان او شیرینو په نکل کي د مومن خان سیاسي شاتګ د قوم د وحدت لپاره سخت ګران تمامېږي.

بل پلو، دا د یوه مشر اجتماعي او ایماني مسولیت دئ چي د خپلو خلګو د ساتلو لپاره د مبارزې میدان خوشي نه کړي. خپل رغنده او مخکښ نقش ولوبوي، او ظالمانو ته د دې فرصت ور نه کړي چي سیاسي لیډرشیپ د ځان کړي. په تاریخ کي تل د ښو خلګو شاتګ د بدو او عوام غولونکو کسانو قدرت د رسېدو لپاره زمینه مساعده وي. او بالاخره د وطن د عمومي تباهی سبب کېږي.

پدې کیسه کي معلومېږي چي د وطن خلګ مومن خان ته د یوه کارزماتیک سیاسي مشر په سترګه ګوري، او خاص احترام ورته لري. په قوم کي د مومن خان محبوبیت هله لا ښه راځرګندېږي چي کله هغه هندوستان ته د تلو نیت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

کوي. د وطن خلګ د هغه سره تر ډېره ځايه بدرګه ځي، څو بالاخره مومن خان هغوی ته وايي،«بس دي تاسي رخصت ياست، زه يوازي ځم. د خدای په امان!»

پدې داستان کي دا ښکاري چي مومن خان اصلا د قدرت وږی نه دئ. ځکه کله چي د هندي راجا لور له ښاماره ژغوري، هندی راجا مومن خان ته خپله نيمه پاچاهي او لور ورکوي. خو مومن خان د هغه بلنه ور ردوي، او وايي،«زه ستا پاچاهي نه کوم.» که څه هم د قدرت سره د مومن خان بی علاقه ګي تر يوه حده د هغه سياسي فيصلې توجيه کوي، خو هيڅکله د هغه اجتماعي مسوليت نه سي توجيه کولای. ځکه حتی که چيري يو مشر د قدرت شوق هم و نه لري، بيا هم هغه د خپلو خلګو په مقابل کي اخلاقي مسوليت لري. مشران اخلاقاً مجبوره دي چي د مبارزې ميدان خوشي نه کړي، او د خپلو خلګو د ثبات او پرمختګ په برخه کي ځان مسول وګڼي.

له داستانه داسي برېښي چي مومن خان په آخر کي خپله همدا بنيادي اشتباه مني. دا هم مني چي هند ته د هغه تګ يوه غلطه او زيانمنه فيصله وه، او بايد دا کار ئې نه وای کړی. ځکه کله چي له هندي باچا څخه رخصت اخلي، دا ناره کوي:

باچا رخصت راکه چي ځمه
پر دنباله مي غمازان کوي شورونه

د عبرت اجتماعي درسونه: په داستان کي د ښځو نقش

د مومن خان او شيرنو په نکل کي، يوه د پام وړ موضوع دا ده چي ښځي د جنازې او هديرې په مراسمو کي فعاله ونډه اخلي. کله چي د مومن خان جنازه هديري ته وړي، شيرنو وايي څرنګه چي د مومن خان «ارمان نه دئ ختلی، د ده جنازه دي تر هديرې پوري پېغلي نجوني يوسي.» د ښځو په واسطه د مومن خان د جنازې وړل، واقعاً يوه پارونکې موضوع ده، ځکه په اوسني افغان دود او دستور کي ښځي د مړي جنازه هديرې ته پر اوږو نه وړي. خو د مومن خان په نکل کي دا کار کېږي، او حتی د باچا لور چي د مومن خان مېرمن ده، پدې مراسمو کي برخه اخلي، او د مومن خان جنازه پر خپلو اوږو هديري ته رسوي. کله چي د باچا لور په هديرې کي د شيرنيو پوښتنه کوي، او خلګ يې ور ښيي، نو هغه ناره باندي کوي:

مومن پر تا مړ سو مرداري
ما د انار تر ګل نازک ساتلی وو نه.

بله عجبه موضوع دا ده چي کله د باچا لور په هديري کي د مومن خان مخ لڅوي، د مومن خان له جنازې سره غزېږي، او له خدايه د مرګ خواست کوي، او وايي که به د عاشقانو د زړه خواست قبلېږي،« نو زه زياته ژوند نه غواړم.» د هغې همدا خواست ځای پر ځای قبلېږي، او سمدستي مړی .

د مومن خان په نکل کي بل اجتماعي او فرهنګي واقعيت د پښتنو ښکلا ده. پدې داستان کي د مومن خان ښايست د حضرت يوسف له ښکلا سره زيات شباهت لري. ځکه مومن خان دونه ښايسته دئ چي بايد په هند کي په مخ نقاب واغوندي. هر ځل چي هنديان د مومن خان څېره ګوري، هغوی سمدستي بېسده کېږي. کله چي مومن خان هند ته رسېږي، او هلته په بازار کي د يوې هندي عسکري قطعې د پرېټ او رسم ګذشت تماشا کوي، ناڅاپه د يوه هندي عسکر سترګي د بي نقابه مومن خان پر مخ باندي لګېږي، هندی عسکر ځای پر ځای بېسده کېږي، او په خپله نېزه ټپي کېږي. بل کرت کله چي هندي پاچا د مومن خان د ښايست کيسه اوري، او عسکر ور استوي چي دربار ته ئې ور ولي. کله چي عسکر په کاروانسرای کي د مومن خان کوټې ته ور ننوزي، او د مومن خان ښايست ګوري، هغوی هم سمدستي بېسده کېږي. لنډه دا چي د بالي هوډ د خانانو ښايست افسانوي سابقه لري .

د ملي هنداري په زياترو کيسو کي د پښتنو ځوانانو او پېغلانو ښايست ته زياته توجه کېږي. او دلته او هلته يې صفت کېږي. مومن خان داسي ښايسته وو لکه «پيروژه» او سترګي نه پر رونېدلې. د نورو اتلانو په باب هم دا خبري زياتي کېږي. مثلاً پلانکی داسي ښايسته وه چي «خور او ورور پر مينېدل». او يا پلانکی داسي ښکلې وه «چي په غاړه کي ئې اوبه ښکارېدلې». داسي ښايسته وه لکه «اووم پيروی». او يا داسي ښکلې وه چي «توبه.»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ